د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۴۵

نېټه: ۱۴۴۴/۹/۸ هق

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۸/۸هق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د حوت مياشتې د لسمې (۱۰) نيټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې اتمه موضوع داسې وه: ((د بعضې دوسيو د تعقيب يا پرمخ بيولو لپاره د دعوې اصل جانب نه راځي بلکه د مدافع وکيل محکمې ته را استوي په دې اړه چې څرنګه ترتيب وشي؟)) چې په اړه يې د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۳۲) مورخ ۱۴۴۴/۸/۸هق د اتمې پريکړې په اساس داسې هدايت وکړ: ((د افغانستان اسلامي امارت په محکمو کې د قضيو او دعوو جانبين حق لري چې اړونده دوسيه خپله تعقيب کړي او يا هم د خپل حق څخه د دفاع په خاطر وکيل وټاکي هغه که مدافع وکيل وي او که بل وکيل وي.

همدارنګه د عدليې وزارت لخوا د مدافع وکيلانو د انسجام کړنلاره جوړه شوي او د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا تائيد شوې ده چې يادې کړنلارې ته په کتلو، د جزائي قضاياوو په حق الله برخه کې مدافع وکيل د فورم په اساس ټاکل کيږي او د محکمې لخوا د شرعي وثيقې (وکالت خط) ترتيبولو ته ضرورت نه لري، طبق ماده (۴۲) د مدافع وکيلانو د انسجام کړنلاره.

د حقوقي او جزائي قضيو په حق العبدي برخه کې مدافع وکيل د شرعي وثيقې په واسطه ټاکل کيږي طبق ماده (۴۳) د مدافع وکيلانو د انسجام کړنلاره.

چې دغه شرعي وثيقه (وکالت خط بالاقرار او يا وکالت خط بالشهود) د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۷) مورخ ۱۴۴۴/۱/۲۵هق مطابق د اسلامي امارت په محکمو کې ترتيبيږي، نو په دې اساس وکيل مدافع کولای شي چې د جزائي موضوعاتو په حق الله برخه کې د پورته ذکر شوي فورم او د حق العبد په حقوقي او جزائي موضوعاتو کې د هرې موضوع د تعقيب لپاره د شرعي وثيقې (وکالت خط) په درلودلو سره موضوع پر مخ يوسي او په وثيقه کې د ذکر سوي مؤکل پر ځای په قضائي مجلسونو کې ګډون وکړي او د خپل مؤکل د حق څخه دفاع وکړي.

بناءً د وثائقو آمريتونو او ټولو محکمو ته دې خبر ورکړل شي چې مدافع وکيلانو ته د يادې وثيقې (وکالت خط) په ترتيب کې اصولي همکاري ورسره وکړي او هغه محاکم چې مدافع وکيلان ورته مراجعه کوي د پورته ترتيب موافق دې ورسره اصولي همکاري وکړي.))



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو او د وثائقو آمریتونو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af